خلک به د قیامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي

له عائشة بنت أبي بكر رضى الله عنها څخه روايت دی وايي چې : ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلې چې فرمايل يې: «خلک به د قيامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي» ماوويل: اې د الله رسوله! ښځې او سړي به يو بل ته ګوري؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اې عائشې! حالت به لدې ډېر سخت وي چې خلک يو بل ته وګوري».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم د قيامت د ورځې ځينې حالتونه بيان کړل: او دا چې خلک به له قبرونو راپاڅول شي او د حساب لپاره به راټول کړی شي، په داسې حال کې چې پښې به يې لوڅې وي، او بربنډ به وي کالي به نه لري، او ناسنته به وي لکه مور چې زېږولی و، کله چې أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها دا خبره واوريده، نو په حيرانتيا سره يې وويل: اې د الله رسوله! آيا ښځې او سړي به ټول يو بل ته ګوري؟! نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته روښانه کړه چې د قيامت د راټولېدو حالت او له مرګه وروسته راپورته کېدل دومره سخت او وېروونکي دي چې خلک به دومره بوخت وي، چې د يو بل عيبونو ته د کتلو فرصت به نه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5460